# د فضل اکبر سېلاب دَ کتاب
# "کۀ غر لوئے دے" دَ مخ کتنې دستوره

خان محمد تنها

په پښتونخوا کښې دَ اکوړې خاوره دَ شعر و ادب دپاره په دې وجه غوره او زرخېزه ده چې دلته داسې ستر شخصیات زېږېدلي دي چې هغوي په خپله زمانه او تاریخ یو ژور اثر پرېښے دے. دَ توري او دَ قلم خاوند خوشحال بابا نه واخله تر بابا اجمل خټک صېب پورې دا انقلابي خاوره دَ عالمي پښتو ادب، سیاست، مذهب او کلتور مرکز پاتې شوې ده او خپل یو ځانګړے حېثیت او مقام په دغه خاوره لري.

خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه (رجسټرډ) اکوړه خټک هر کال دَ خپل روایت ترمخه دَ خپلو ملي اتلانو قهرمانانو او مشاهیرو په یاد کښې "د جشن خوشحال" او دَ بابا "اجمل خټک سیمینار" او مېلې په نوم ادبي تقریباتو نه علاوه مشاعرې او دَ ملګرو دَ کتابونو دَ مخ کتنې دستورې هم کوي.

په ۳ نومبر ۲۰۰۹ء خوشحال ادبي و ثقافتي جرګې دَ خپل سرپرست او انقلابي شاعر فضل اکبر سېلاب دَ کتاب "کۀ غر لوئے دے" دَ مخ کتنې دستوره په خوشحال مېموریل لائبرېري اکوړې کښې ترسره شوه چې مشر مېلمه پکښې دَ پښتونخوا وزیراطلاعات محترم میا افتخار حسېن صېب ؤ او صدارت ئې دَ اکادمي ادبیات پاکستان دَ پېښور څانګې ریزیډنټ ډائرېکټر محترم ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب وکړو. په سټېج ناستو مېلمنو کښې پروفېسر ناصر علي سېد، محمد جان جهانګیر، حاجي جمیل خټک، فضل اکبر سېلاب، احرار خټک، ملک افتاب خان او دَ ضلع نوښار ډي سي او روح الله صېب نه علاوه دَ پرنټ او الیکټرانک مېډیا ملګري هم په خپلو خپلو نشستونو ناست وو. په دې پروګرام کښې چې کومو شاعرانو برخه واخسته په هغې کښې محترم سلیم راز صېب، ډاکټر فضل دین خټک، رحیم شاه رحیم، ماصل خان آتش، پروفېسر ابرار خټک، خان بهادر ګلشن، انور زېب سحر، محمد طاهر فاروقي، حېدر شاه حېدر، شاهد حسېن شاهد، نوید خټک، وصال خان راهي خټک، سبزعلي خان صابر، لیاقت خان نه علاوه نور ګڼ شاعران ادیبان او دَ علاقې معزز مشران شامل وو.

د پروګرام اغاز دَ تلاوت کلام پاک نه وشو او دَ نظامت چارې دَ خوشحال ادبي و ثقافتي جرګې ستر سېکتر خان محمد تنها ترسره کولې.

مشر مېلمه او صدر تقریب ته دَ مجلس عاملې چئیرمېن حاجي محمد جمیل خټک او عرفان خټک دَ ګلو هار ور په غاړه کړو او راقم الحروف (خان محمد تنها) او محمد جان جهانګیر دَ جرګې له اړخه ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب او میا افتخار حسېن صېب ته اعزازي بېجونه او ګلونه ولګول. راقم الحروف په خپلو تمهیدي خبرو کښې ټولو مېلمنو شاعرانو، ادیبانو ته په روڼ تندي هرکلے ووې. دَ روایت مطابق دَ تقریب مشر مېلمه او صدر

جلسه په خپلو پاکو او مبارکو لاسونو دَ فضل اکبر سېلاب دَ کتاب "کۀ غر لوئے دے" پرانسته وکړه.

دې پسې دَ ننګيالي ټولي سرپرست رحيم شاه رحيم خپل نظم ووې چې دَ حاضرينو نه ئې ډېر داد واخستو دَ جرګې صدر محمد جان جهانګير په خپله سپاسنامه کښې مشر مېلمه ته دا مطالبې وړاندې کړې چې دَ فضل حق ګورنر نه پس زمونږ دَ جرګې په سالانه ګرانټ ان ابړه کښې هډو چا اضافه ونۀ کړه چې ډېره دَ افسوس خبره ده ځکه چې په دې ګرانه ګرانۍ کښې پنځوس زره روپۍ ډېرې کمې دي. لهٰذا په دې کښې دې اضافه وکړے شي چې ادبي هلې ځلې زمونږ دَ جرګې پرې رواني شي. بله خبره دا ده چې زمونږ دَ ډېرو شاعرانو ملګرو مسودې زمونږ دَ جرګې سره هم دغسې پرتې دي او هسې ضائع کېږي، دَ حکومت له اړخه دې دَ دې کتابونو چاپ کولو بندوبست وکړے شي. درېمه خبره دا ده چې زمونږ دَ جرګې دفتر کرايه دَ مياشتې دولس سوه روپۍ ده او نن سبا دَ جرګې مالي پوزېشن ډېر کمزورے دے او دا په جرګه يو درونډ بوج دے کۀ چرې حکومت په خوشحال مېموريل لائبرېرۍ کښې په خالي کمرو کښې يوه کمره دَ جرګې دَ دفتر دپاره ورکړي نو دَ جرګې دَ اوږو نه به دَ کرايې يو درونډ بوج لرې شي.

دَ کتاب ليکونکي فضل اکبر سېلاب په خپلو خبرو کښې دَ ټولو راغلو مېلمنو، شاعرانو، اديبانو مننه وکړه او دَ خپل کتاب په حقله ئې ووې چې زما کتاب کښې به ملګري شاعران ډېرې زياتې غلطۍ په ګوته کړي خو زما غلطۍ به زما وي او دَ کمپيوټر (کتابت) غلطۍ به دَ کمپيوټر والا وي او زما په دې کښې هيڅ قصور نشته.

ستر کالم نګار، شاعر اديب دانشور، پروفېسر ناصر علي سېد دَ سېلاب صېب په ژوند او فن او شخصيت رڼا واچوله او په دې ادبي تقريب کښې ئې دَ خپل کلاس فېلو او شاعر ملګري خدائے بخښلي مثل خان راهي خټک کمے ډېر زيات محسوس کړو.

د پښتو ژبې عظيم ډرامه نګار، محقق، نقاد، شاعر اديب دانشور او دَ اکاډمي ادبيات پاکستان پېښور ريزيډنټ ډائرېکټر محمد اعظم اعظم صېب دَ سېلاب صېب په ادبي ژوند او شاعرۍ ښې تفصيلي خبرې وکړې او دَ سېلاب صېب دَ شعر او مقبوليت په حقله ئې ووې چې دَ دوی شعر ځکه دَ خلقو خوښېږي چې دا ساده او عام فهم دے او دَ دۀ شاعري دَ نوی کُول دپاره په خپل چاپېر چل کښې دَ مشال کار کوي.

دَ تقريب مشر مېلمه او دَ پښتونخوا دَ صوبې وزيراطلاعات محترم ميا افتخار حسېن صېب په خپل خطاب کښې دَ سېلاب په ادبي او سياسي ژوند ډېره ښکلې رڼا واچوله او سېلاب صېب ته ئې دَ کتاب چاپ کولو مبارکي ورکړه. دې نه علاوه دوی ملک ته دَ دهشت ګردۍ او ترهه ګرۍ په وړپېښو کشالو هم خبرې وکړې او دې حالاتو کښې ئې پښتون قام ته دَ اتفاق او اتحاد په حواله هم خبرې اترې وکړې او په سپاسنامه کښې ئې دَ جرګې ټولې مطالبې منظورې کړې.

دا ساده خو ډېر ښائسته تقريب دَ نمر دَ پرېوتو سره دَ ماښام په تروږمو کښې اختتام ته ورسېدو.